

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲۳ | مسلسل نمبر: ٦٥

شنبه، د ربيع الاول ۱۸ مه، ۱۴۴٦ هـ. ق کال

## کار عملی بخش نخست فاز اول کانال شاهی در ولایت لغمان به تاریخ ۲۴م سنبله سال جاری خورشیدی آغاز شد



۲ صفحه

## حاصلات گندم در سال جاری خورشیدی نسبت به سال گذشته ۱۳ در صد افزایش یافته است



۲ مه صفحه

## په افغانستان کې د باد‌ي برېښنا د توليد ظرفيت او اهميت ته کتنه



۳ مه صفحه




د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د مسوولينو په وينا، په روان کال کې د غنمو په حاصلاتو کې ۱۳ سلنه زياتوالی راغلی دی. په روان ۱۴۰۳ لمريز کال کې د هېواد په کچه په ۲,۱۴ ميليونه هکتاره ځمکه غنم کرل شوي و. د تېر کال په پرتله د کر په ځمکه کې ٦ سلنه زياتوالی راغلی دی او په پايله کې يې د غنمو ۴,۹ ميليون ميټريک ټنه حاصلات راټول شوي دي. د غنمو دغه حاصلات تر ډېره د هېوادوالو اړتياوې پوره کولی شي.

افغانستان يو کرنيز هېواد دی او کرنه په دې هېواد کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختيا له پاره يو باالقوه شاخص ګڼل کېږي. تر پنځوس سلنه زياتې کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتياوې د کرنې له سکټور څخه پوره کوي. پر افغانستان لومړی د شوروي او بيا د امريکا يرغل د نورو سکټورونو ترڅنګ د کرنې سکټور هم زيانمن کړ او په دې برخه کې ترسره شوي پرمختګونه له منځه ولاړل. په ۱۴۰۱ ل کال کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره دې برخې ته تر ډېره بريده پام اوښتی دی. هڅه داده چې کرنيز سکټور بېرته په پښو ودرول شي.

د اسلامي امارت په راتګ سره د کرنې سکټور د پرمختګ له پاره پر يو شمېر هغو کانالونو او بندونو چې کولای شي د شته کرنيزې ځمکې ترڅنګ له کښت څخه پاتې ځمکې خړوبې کړي، کار روان دی. د دې په خوا کې په بېلا بېلو ولسواليو کې د باران او واورې د اوبو مهارولو او د کرنيزو ځمکو خړوبولو له پاره کوچني بندونه جوړ شوي دي. دغه راز پر بزګرانو د ۷۰ زره ټنه اصلاح شوو تخمونو وېشل، پر بزګرانو د کيمياوي سرې ويشل، د کوکنارو کرکېلې بندېدل او د بديل معيشت په توګه د غنمو کرل، پر بزګرانو د کرنيزو درملو وېشل، بهر ته د غنمو د قاچاق مخنيوی، په کور دننه د غنمو ساتلو لپاره د سيلوګانو فعالول له بزګرانو څخه په مناسبه بيه د اضافي غنمو پېرل او د تېر کال په پرتله پر شپږ سلنه اضافي ځمکه د غنمو کرل، نور هغه لاملونه دي چې په ټوله کې يې د کرنيزو محصولاتو او په ځانګړي ډول د غنمو په حاصلاتو کې زياتوالی راوستلی دی.

دا د کرنې په برخه کې يو ستر پرمختګ دی. خو اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې، هڅه يې داده چې په افغانستان کې کرنه په بشپړ ډول له دوديز حالت څخه را وباسي او ميکانيزه يې کړي. د کرنې په ميکانيزه کېدو سره به د کرنې سکټور نوره هم وده وکړي، عوايد به زيات او هېواد به د خوراکي توکو په ځانګړي ډول غنمو په برخه کې پر ځان بسياينې ته ورسېږي. بيا به نه په هېواد کې د خوراکي توکو بيې لوړې ځي او نه به موږ ګاونډيو او د سيمې هېوادونو څخه د خوراکي توکو وارداتو ته سترګې په لار يوو.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی



# کار عملی بخش نخست فاز اول کانال شاهی

## در ولایت لغمان به تاریخ ۲۴م سنبله سال جاری خورشیدی آغاز شد



کمیسیون اقتصادی به تاریخ ۲۹م سنبله ۱۴۰۲ خورشیدی به وزارت های آب و انرژی و زراعت، آبیاری و مالداری وظیفه سپرد تا به صورت مشترک مطالعه‌ی تخنیکی کار باقی مانده کانال شاهی در ولایت لغمان را انجام دهند. پس از تکمیل شدن مطالعات تخنیکی، کمیسیون اقتصادی فیصله نمود تا در بودیجه انکشـافی ۱۴۰۳ خورشیدی مصارف اعمار این کانال در نظر گرفته شـود. براسـاس فیصله کمیســیون اقتصادی کار عملی این کانال ۲۴ م سنبله ۱۴۰۳ از سوی وزارت آب و انرژی به صورت رسمی آغاز گردید. این کانال که در ولسوالی الینگار ولایت لغمان موقعیت دارد، طول آن به ۷۰ کیلومتر میرسـد و کار اعمار آن در دو فاز پلان شده اســت. با تکمیل کار این کانال حدود ۲۰ هزار هکتار زمین آبیاری و به صدها هموطن زمینه کار مساعد خواهد شد.

قابل یاد آوریست که اکنون کار فاز اول این کانال آغاز شده که ۳۰ کیلومتر طول دارد. بخش نخست فاز اول این پروژه ٦,٦ کیلومتر طول دارد که کار ساخت و ساز آن از سوی دو شرکت خصوصی ساختمانی به پیش برده می شود.

---

## حاصلات گندم در سال جاری خورشیدی

### نسبت به سال گذشته ۱۳ در صد افزایش یافته است

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office

امارت اسلامی برای خودکفایی در کنار سایر بخش ها بخش زراعت را نیز مورد توجه قرار داده، که در نتیجه آن حاصلات گندم امسال ۱۳ فیصد افزایش یافته است.

**عوامـــل افـزایش حاصـلات گـندم:**

- توزیع ۷۰ هزار تن تخم اصلاح شده برای دهاقین
- ساخت و بازســازی کانال های زراعتی
- توزیع کـــود کیمیاوی برای دهاقین
- ســـاخت بندهای کوچک در مناطق مختلف کشور
- منع کشت کوکنار و کشت گندم به حیث معیشـــت بدیل
- توزیع دواهای زراعتـی برای دهاقین
- جلوگیری از قاچاق گندم
- فعال ساختن سیلوها برای ذخیره کردن گندم
- خریداری گنـــدم اضافی از دهاقین به قیمت مناسب
- در تناسب به سال گذشته کشـــت گندم به بیش از شش درصد زمین



**یادداشت:** در نتیجه تلاش های فوق امسال در کشور ٤,٩ میلیون متریک تن حاصل گندم جمع آوری گردیده که تا حدی زیاد نیازمندی های هموطنان را مرفوع می‌سازد.

---

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د روان لمریز کال د سرطان له لومړۍ بیا د سنبلې تر ۳۱مې نېټې پورې د ترسره شـــويو فعالیتونو پـــه اړه «د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه» تر سرلیک لاندې ځېړنیز راپور چمتو او خپور کړ

د دې راپور موخه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته پاملرنه ده. دا تحلیلي راپور «د اقتصادي کمېسیون له لوري د سرو زرو د موقت صـــدرو کړنلارې تائیدېـــدل، د ملي تدارکاتو کمېسیـــون له لوري د شاوخوا ۵ میلیارد افغانیو په ارزښت د پروژو منظوري، د کابل په ګډون د هېواد په شپږو ولایتونو کې د صادراتو د پروســـس زونونو جوړېدل، د لایف پرل د درمل جوړولو فابریکه پرانیستل، د اسلامي امارت له لوري د کاري فرصتونـــو د رامنځته کولو په موخه د بنســـتیزو پروژو پیلېدل، د مس عینک پروژې ته د غځېدلي سړک د جوړولو چارو پرانیســـته، په ۲۱ ګمرکي بندرونو کې د برېښـــنایي ســـکنرونو د نصب قرارداد لاسـلیکېدل، د افغانســـتان او ازبیکســـتان ترمنځ د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت د تړونونو لاسلیکېدل، د پکتیکا پلتوني بند د عملي چارو د پیل

پرانیسته» او دې ته ورته یو لړ نور موضوعات رانغاړي.

دا هغه موضوعـــات دي چې د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي معاونیت د هېواد د اقتصـــادي ودې او دغه راز د هېواد د بیارغونې په خاطر په پام کې نیولي دي چې ځینو یې عملي بڼه خپلې کړې او د یو شـــمېر د عملي کېدو له پاره قوي هوډ لري.

د دغو موضوعاتو په اړه په دولتي او خصوصي رسنیو او همدا راز ټولنیزو شبکو کې هېوادوالو خپل نظرونه شریک کړي او د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دوی نظرونه د علمي معیارونو په نظر کې نیولو سره تحلیل او ارزولي دي.

د یادو موضوعاتو په اړه د هېوادوالو نظرونه پر مثبتو، منفي او وړاندیزونو وېشل شوي، د مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو مجموعي شـــمېر ۲۲۴۳۳ دی چې له دې جملې ۱۹۹۳۶ د مثبتو نظرونو شـــمېر دی چې د مجموعي شـــمېر ۸۹ سلنه جوړوي، د منفي نظرونو شمېر ۱۹۰۶ دی چې د مجموعي شمېر ۸ سلنه جوړوي همدا ډول د وړاندېزونو شمېر ۵۹۱ دی چې د مجموعي شمېر ۳ سلنه جوړوي.

د هېوادوالو د نظرونو د تحلیل او ارزونې پایلې دا په ډاګه کوي چې هېوادوال د افغانستان اسلامي امارت له لوري په اقتصادي برخه کې د ترسره شویو کارونو څخه خوښ او په راتلونکې کې ددې ډول پلانونو د تطبیق غوښتنه کوي.






# په افغانستان کې د بادي برېښنا

## د تولید ظرفیت او اهمیت ته کتنه

**لیکوال: امان‌الله حنیفي**

### سریزه

د نړۍ په کچه هغه هېوادونه چې پرمختللي اقتصادونه لري، د غریبـو او کمـزورو اقتصاد لرونکو هېوادونو پـه پرتله ډېره برېښنا مصرفوي. پرمختللي هېوادونه پیاوړی صنعت لري او د صنعت له مهمو زېربناوو یوه هم برېښنا ده. د برېښنا اړتیا له مختلفو لارو پوره کېږي، چې تر ټولو مهمې هغه یې پاکې او نـوې کېدونکې سرچینې دي. د برېښنـا تولید د پاکو او نوې کېدونکـو سرچینو لـه جملې یوه هغه بـاد دی چې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې ترې استفاده کېږي. د دغه سرچینې یوه ښـېګڼه دا ده چې د تولید پر مهال چاپېریال نه ککړوي او بله هغه دا چې نوي کېدونکې او دوامداره ده. افغانسـتان هم د نړۍ یو له هغو هېوادونو دی، چې په کور دننه د پاکې او نـوې کېدونکې برېښنـا پربېمانه سرچینې لري، چې ښـې بېلګې لمر او باد دي. خو د یادو سرچینو له ډلې یې بیا تر ټولو پرېمانــه هغه لمر او په دویم قدم کې باد دي. د ترسره شـوو څېړنو له مخې، افغانستان په کلني ډول د ۳۰۰ زره میګاواټه برېښنــا د تولید ظرفیت لري، چې لــه دې جملې یې ۶۸ زره میګاواټه بادي برېښنا ده.

موږ په همدې مقاله کې د افغانستان د بادي برېښنا د تولید پر ظرفیت او اهمیت خبرې کوو.

### د بادي برېښنا پېژندنه

بـاد د هـوا هغه حرکت دی چې د لمر په واسـطه د ځمکې د نامتوازن ګرموالي په نتیجه کې رامنځته کېږي. باد د لیدو او لمس وړ نه دی، خو کولی شـو د هغه قوت او زور حس کړو. باد کولی شي په اوړي کې ستاسـې جامې وچې کړي او په ژمي کې مو د یخنۍ له وجې ژامې په لړزه راولي. باد دومره

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

زور او قوت لري چې په سېندونو کې د کښتۍ مسير بدلوي او د ځمکې پر سر لوېې ونې له ريښو سره راباسي.

باد د نوي کېدونکې، وړيا او لاسرسي وړ انرژۍ يوه مهمه سرچينه ده. هره ورځ په نړۍ کې بې شمېره بادي توربينونه د باد انرژي جذبوي او هغه په برېښنا بدلوي. دغه ترلاسه شوې برېښنا بيا د ژوند په مختلفو برخو لکه د کورونو په روښانه کولو، روغتيايي خدمتونو، د بشر د اړتيا وړ توکو د توليد، صنعت، کرنې او... کې استفاده کېږي.

د بادي برېښنا توليد د نورو برخو ترڅنګ د صنعت په پرمختګ کې د ځمکې پر سر د نوي کېدونکې او پاکې انرژۍ يوه تر ټولو مهمه او دوامداره سرچينه ده، چې نن ورځ يې په نړۍ کې د ډېرو هېوادونو پام خپل کړی دی.

د ۲۰۱۰ ميلادي کال په پای کې په ټوله نړۍ کې د بادي انرژۍ د توليد کچه ۱۹۷ ګيګاواټه ته رسېده ، خو له هغه را وروسته يې ورځ تر بلې د توليد اندازه زياتېږي. په دا وروستۍ يوه نيمه لسيزه کې هغو هېوادونو هم د بادي برېښنا توليد او استفادې ته مخه کړې ده چې کمه اقتصادي وده يې کړې او غواړي د لوړې بيې پر وارداتي برېښنا يې تکيه کمه شي. افغانستان هم يو له همدې هېوادونو دی، چې د اسلامي امارت په راتګ سره يې د برېښنا د خودکفايي په برخه کې همدا پاليسي غوره کړې، څو د وارداتي برېښنا پر ځای په کور دننه د خپلې اړتيا وړ برېښنا له موجودو سرچينو توليد کړي. له دې سرچينو يوه غني او دوامداره هغه يې بادي برېښنا ده.

## د بادي برېښنا ارزښت

په ننۍ نړۍ کې د پرمختللي صنعت، معياري کرنيز سيستم، د اړتيا وړ توکو د توليد، د پاک چاپېريال درلودو، ښه صحت او په مجموع کې خلکو ته د ټولنيزو اسانتياوو د چمتو کولو په برخه کې د توليدي انرژۍ د نورو ډولونو پر ځای نوي کېدونکې يا پاکې انرژۍ ته چې يو مهم ډول يې بادي برېښنا ده، ډېر ارزښت ورکول کېږي.

د بادي برېښنا يو تر ټولو مهم ارزښت دا دی، چې د توليد پر مهال کاربن نه توليدوي. د برېښنا د توليد د نورو سرچينو لکه



ډېرو سکرو او طبيعي ګاز خلاف د ګلخانه‌يي مضرو ګازونو له انتشار پرته برېښنا توليدوي. دغه چاره د اقليمي بدلون د مديريت او کنټرول په برخه کې ډېره مؤثره ده او اوسمهال په نړيواله کچه ورته جدي پام اوښتی دی.

بادي برېښنا يوه نوي کېدونکې منبع ده چې هيڅ محدوديت او پای نه لري؛ خو د برېښنا نور ډولونه لکه د ډېرو سکاره، نفت او طبيعي ګاز په نړيواله کچه ډېر په چټکۍ سره د خلاصېدو په حال کې دي. له همدې امله بادي برېښنا د ذکر شوو طبيعي منابعو په ساتنه کې ډېر مثبت رول لري، چې کېدلی شي له يادو طبيعي منابعو څخه په خپل ځای کې استفاده وشي.

له بادي برېښنا پرته د برېښنا توليد نورې سرچينې نايتروجن اکسايد، سلفر ډای اکسايد او نور زهرجن ګازونه منتشروي، چې د روغتيا لپاره ډېر زيان رسوونکي دي. خو د بادي برېښنا سيستمونه پرته له دې چې زهرجن ګازونه توليد کړي، ډېره پاکه برېښنا توليدوي چې نه روغتيا او نه هم چاپېريال ته کوم زيان رسوي. د بادي برېښنا توليد اوبو ته اړتيا نه لري، چې هغه ککړې او له استفادې يې وباسي.

بادي برېښنا په ډېر کم لګښت سره په ډېرې اسانۍ توليدېږي او د هغې وارداتي برېښنا له پېرولو مخنيوی کوي چې قيمت يې ډېر زيات دی. په دې سره کولی شو وخت په تېرېدو پيسې سپما کړو او له هغه په نورو برخو کې استفاده وکړو.

د بادي برېښنا د سيستمونو استفادې د دغو سيستمونو د نصب، له هغه د ساتنې او ګټې اخيستو له امله ډېر کاري فرصتونه رامنځته کړي دي. د بادي برېښنا د تقاضا زياتېدو ته په کتو سره ويلی شو چې په دغه برخه کې به ډېر نوي کاري فرصتونه خلکو ته رامنځته شي. پر دې سربېره، هغه سيمې چې برېښنا ته لاسرسی نه لري، کولی شي له دې برېښنا چې تر ټولو د باور وړ ده، استفاده وکړي. دغه چاره به په يادو سيمو کې د اقتصادي فعاليتونو د زياتېدو سبب شي چې دا به په مجموع کې د يو هېواد پر اقتصادي وده مثبت اغېز وکړي.

## افغانستان او د بادي برېښنا موجود ظرفيت

له حده زياته پر وارداتي برېښنا د افغانستان تکيه د دغه هېواد لپاره يوه لويه ننګونه بلل کېږي. د شمېرو له مخې، افغانستان د خپلې اړتيا وړ تر نيمايي زياته برېښنا له ازبيکستان او پاتې له ترکمنستان، تاجکستان او ايران هېوادونو څخه واردوي او د همدغه وارداتي برېښنا په بدل کې په مياشتني ډول ۲۵ ميليون ډالر او په کلني ډول شاوخوا ۳۰۰ ميليون ډالر ورکوي، چې خورا ډېرې پيسې دي .

دا پيسې په داسې حال د وارداتي برېښنا په بدل کې ورکول کېږي، چې افغانستان په کور دننه د ۳۰۰ زره ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري . د دغه موجود ظرفيت يوه غوښنه برخه بيا بادي برېښنا جوړوي چې اټکل شوې اندازه يې په کلني ډول شاوخوا ۶۸ زره ميګاواټه ته رسېږي.

افغانستان د پراخو او هوارو دښتو او تنګو درو په درلودو سره د بادي برېښنا د توليد ښه ظرفيت لري چې په دغه برخه کې د عملي پروژو په پيل سره د برېښنا د کمبود له امله رامنځته شوې ستونزې تر يوه حده حل کېدای شي.

## د بادي برېښنا د توليد په برخه کې ترسره شوې هڅې

د انرژۍ له نوي کېدونکو سرچينو لکه «باد» څخه د برېښنا توليد په وروستۍ يوه نيمه لسيزه کې د پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونـو د صنعتي او اقتصادي مسير اصلي محور جوړ شـوی دی. د نړۍ پرمختللي هېوادونه کوښښ کوي چې د بادي برېښنا د توليد په سکټور کې د لازمي پانګونې پر مټ له يوه لوري ځانونه په لوړ قيمت د وارداتي برېښنا له اخيستلو خـلاص کړي او له بـل لوري له هېـواد څخه د پانګې د فـرار مخنيوی هـم وکړي. پـردې سربېره دوی غواړي چې د نـوي کېدونکي او پاکې انرژۍ په توليد سره ښه صحت او پاک چاپېريال هم ولري.

دې ته په کتو، افغانسـتان د نړۍ يو له هغو هېوادونو دی چې د برېښـنا تکيه يې تر ډېره پـه وارداتي هغه ولاړه ده. وارداتي برېښـنا يې نه يوازې دا چې د صنعت د ودې بهير ټکنی کړی دی، بلکې له هېواد څخه يې د ميلياردونو ډالرو په ارزښـت پانګه هم ايستلې، چې د هېواد اقتصاد ته لويه ضربه ده.

له وارداتي برېښـنا څخه د خلاصون او په تدريجي ډول په کـور دننه د برېښـنا د توليـد په برخه کـې خودکفايي ته د رسېدو په موخه د اوبيزې او لمريزې برېښنا د توليد سربېره د بادي برېښـنا توليد ته هم په دې وروسـتيو کې پام اوښتی دی. پـه همـدې موخه د لومړي ځل لپـاره په ۱۳۹۶ لمريز کال د هرات ولايت په صنعتي ښارګوټي کې په ازمويښتي ډول د بادي برېښنا درې ټاورونه نصب او فعال شول. دغه ټاورونه د ۳۰۰ کيلوواټه برېښـنا د توليـد ظرفيت لري چې پرې راغلی ۳,۵ ميليون ډالره لګښـت يې د جاپان له لوري ورکړل شوی دی .

له هغه را وروسـته د هېواد په يوشمېر ولايتونو کې د بادي برېښـنا د پروژو په اړه څېړنې شـوې دي، خـو تر ډېره يې عملي کارونه نه دي پيل شوي. د اسلامي امارت په راتګ سره د برېښـنا توليد د نورو سرچينو ترڅنګ د بادي برېښـنا توليد ته هم توجه زياته شوې او په همدې موخه يې د ۱۴۰۲ لمريز کال د ثور مياشـتې په ۱۹مه نېټه له ۷۷ ترکي شرکـت سره په هـرات ولايت کـې د ۲۰۰ ميګاواټه بادي برېښـنا د توليد په اړه د همکارۍ تړون لاسـليک کړ. ۷۷ ترکي شرکت به د دغه تړون له مخې، د افغانستان د بادي انـرژۍ د توليد په برخه کې پانګونـې وکړي او تر راتلونکو دوو کلونـو به په هـرات ولايت کـې ۲۰۰ ميګاواټه بادي برېښنا ترلاسه شي .

دغه ترلاسه کېدونکې ۲۰۰ ميګاواټه برېښنا به په راتلونکي کې د هرات ولايت د برېښنا له شبکې سره وصل شي، چې تـر ډېره بـه په دغه ولايت کې د فعالـو صنعتي فابريکو او عامو خلکو د برېښـنا سـتونزې ورسره حل شي. اوسمهال هـرات ولايت ته له ايـران او ترکمنسـتان هېوادونو څخه وارداتي برېښـنا راځي چې وخت ناوخت د ځينو سـتونزو له امله کمه او يا هم پرې کېږي. د دغه سـتونزې له وجې بيا صنعتي فابريکو ته په ميليونونو افغانۍ تاوان رسېږي، چې د صنعتکارانو په خبره، د برېښـنا د کمښت او ټکني کېدو ستونزې يې د توليد کچه ټيټه کړې ده. په دغه ولايت کې د ۲۰۰ ميګاواټـه بادي برېښـنا د توليد پروژې پيل ته بيا د دغه ولايت صنعتکاران او عام هېوادول خوښ دي چې د برېښنا ستونزې به يې حل شي.

پر دې سربېره اسلامي امارت د برېښنا په برخه کې د هېواد خودکفـاء کېدو لپاره هڅې پيل کـړې دي چې له مخې به يـې په راتلونکي کې د هېواد په يوشمېر نورو ولايتونو کې هم د بادي برېښنا پروژې پيل شي.



## پايله

بادي برېښـنا د انرژۍ يوه تر ډېره نا استفاده شوې سرچينه ده، چې په دې وروسـتۍ يوه نيمه لسيزه کې يې ځانګړې اهميـت پيدا کـړی دی. باد د دې وړتيا لـري چې د يوې پاکې او نوې کېدونکې دوامداره سرچينې په توګه د انسان په ګټه عمل وکړي او په ورته وخت کې د انسان د اوسېدو چاپېريال ته کوم جدي زيان ونه رسـوي. د دغه برېښـنا د توليـد مـوډل نن ورځ په نړۍ کې پـه ډېرې چټکۍ سره د برېښـنا د توليـد په برخه کې يـو انقلاب راوستی او ټول هېوادونه کوښـښ کـوي، چې له دې بې پايـه منبع څخه استفاده وکړي.

د بادي برېښـنا د توليد موډل او د چاپېريال ساتنې په برخه کې د دغه سيستم رول ته په کتو ممکن په راتلونکو لسو يا شلو کلونو کې بادي برېښنا په نړۍ کې د انرژۍ له تر ټولو اقتصادي سرچينو څخه وګرځي.

افغانسـتان چې تر ډېره يې په وارداتي برېښـنا تکيه کړې ده، ورته پکار ده چې په کور دننه د برېښنا له نوي کېدونکو او دوامداره سرچينې (باد) څخه اسـتفاده وکړي او په دغه برخه کې د دولت او خصوصي سـکټور پـه همکارۍ هغه پروژې عملي کړي چې په بشـپړېدو سره به يې د هېواد په صنعت او اقتصاد کې لوی بدلون رامنځته شي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته‌نامه آبادی




## په ملي اقتصاد کې

# د گرځندوی صنعت ارزښت ته کتنه


لیکوال: فضل ولي شيراني


### سریزه

د گرځندوی(توریزم) صنعت په نړیواله ډلبندۍ کې له تېلو او موټر جوړولو صنعت څخه وروسته تر ټولو ډېر عاید لرونکی صنعت بلل شوی دی. په ۲۱مه پېړۍ کې د پرمختګ اصلي برخه او د نړۍ د اقتصاد بنسټ تر ډېره بریده پر همدې صنعت ولاړ دی. ورځ تر بلې د دې صنعت اهمیت مخ په زیاتېدو دی، خو د افغانستان په څېر هېوادونو کې چې اقتصادي حالت يې چندان ښه نه دی، په ځلونو دا صنعت د اهمیت وړ دی. دغه راز گرځندوی صنعت د بېلا بېلو ملتونو له فرهنگونو سره د بلدتیا لامل هم گرځي. افغانستان چې د طبيعي مناظرو، لرغونو او تاريخي ځايونو څخه برخمن دی، نو د دې صنعت وده او پرمختګ يوه مهمه اړتیا ده. خو په افغانستان کې د گرځندوی صنعت له پاره چې څه کول په کار و، هغه نه دي ترسره شوي او دا د تېرو دولتونو د نه پاملرنې او دې صنعت ته د ارزښت نه ورکولو ښکارندويي کوي. د گرځندويانو له پاره چې کوم لرغوني او تاريخي ځايونه د جگړو او اشغال پرمهال زيانمن شوي وو، هغه نه دي رغول شوي، د گرځندويانو د جذب له پاره رسنيز تبليغات نه دي شوي، د گرځندوی مسلکي لارښود نه و او گرځندويانو ته د وېزې په ورکړه کې ستونزې موجودې وې. که چېرې دا صنعت غوړېدلی وای نو اوس به افغانستان هم د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر له دې صنعت څخه په کلني ډول په ميلياردونو افغانۍ ترلاسه کولې. د نړۍ په زياترو هېوادونو کې د ملي اقتصاد بنسټ همدا د گرځندوی صنعت جوړوي او په کلني ډول په ميلياردونو ډالر له همدې درکه ترلاسه کوي. ډېر لرې به نه ځو د ترکيې هېواد به د بېلگې په ډول ياد کړو. دغه هېواد په ۲۰۱۹ ميلادي کال کې يوازې د گرځندوی صنعت څخه ۳۰ ميلیارده ډالر عوايد ترلاسه کړي دي چې دا يو لوړ رقم دی. نو په کار ده چې دغه صنعت ته وده ورکړل شي او د گرځندويانو ستونزو ته رسيدگي وشي او سياحتي سيمې او لرغوني او تاريخي ځايونه ورغول شي.

اسلامي امارت د گرځندوی صنعت اهميت ته په پاملرنې سره اوس ددې صنعت د ودې له پاره خپلې هلې ځلې پيل کړې دي. د لرغونو او تاريخي ځايونو د رغولو ترڅنگ يې د گرځندويانو له پاره تر ټولو مهم فکتور چې امنيت دی، په بشپړ ډول خوندي کړی. د وېزو په ورکړه کې يې اسانتياوې رامنځته کړې دي. په دې ليکنه کې به په افغانستان کې د گرځندوی صنعت، په ملي اقتصادي کې د دې صنعت ارزښت او د اسلامي امارت هلو ځلو ته کتنه وکړو.

### په افغانستان کې د گرځندوی(توریزم) صنعت

کوم دلايل چې په افغانستان کې د گرځندوی صنعت له پاره ورانده کېږي هغه د دې صنعت له پاره د ور چاپېريال شتون، په زړه پورې تاريخي او لرغوني سيمې، د کال څلور فصلونه او طبيعي منظرې دي چې کولای شي د نړۍ يو زيات شمېر سيلانيان را جذب کړي. يو وخت په افغانستان کې د گرځندوی صنعت ښه وده کړې وه، خو پر افغانستان د نيواکگرو له لوري يرغل او بيا په هېواد کې پرله پسې جگړو دا صنعت زيانمن او ټکنی کړ. په افغانستان کې د گرځندوی(توريزم) اداره چې په ۱۳۳۳ لمريز کال د گرځندوی په نوم پرانيستل شوه، په همدې کال کې افغانستان ته ۲۰۰ سيلانيان راغلل. د وخت په تېرېدو سره د سيلانيانو په شمېر کې زياتوالی راغی او په ۱۳۴۰لمريز کال کې دا شمېر ۲۳۴۱۳تنو ته ورسېد. په ۱۳۴۷ لمريز کال دا شمير ۶۳۰۸۹ تنو ته لوړ شو. د سيلانيانو دا شمېر له ۱۳۵۲ لمريز کال وروسته په پر له پسې ډول زيات شو او په هر کال کې تر سلو زرو تنو زيات سيلانيان هېواد ته را تلل او د هېواد له بېلا بېلو لرغونو او طبيعي سيمو څخه يې ليدنه کړه. په ۱۳۵۵ لمريز کال د سيلانيانو شمير ۱۵۰۰۰۰ تنو څخه زيات شو. خو په افغانستان کې جگړو او ناامنيو د نورو برخو ترڅنگ د گرځندوی صنعت مخه هم ډب کړه.

پر دې سربېره په افغانستان کې د کال څلور فصلونه چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې تقريبا استثنا دي؛ د ژمني توريزم له پاره تودې سيمې او د اوړي له پاره سړې سيمې د نړۍ د سيلانيانو لپاره په زړه پورې دي. د افغانستان لوبې، خوراک، لباس، لاسي صنايع او تاريخي ځايونه د گرځندويانو د پام وړ دي او دا هره جاذبه د نړۍ د سيلانيانو لپاره په زړه پورې ده، لېوال سيلانيان يې د ليدو له پاره خامخا تر دې هيواده راځي. د افغانستان په بېلا بېلو جغرافيايي حوزو کې د گرځندوی صنعت د ودې او پراختيا له پاره زمينه برابربدای شي، خو پاملرنې ته اړتيا لري، څو دغه صنعت وده او پرمختګ وکړي. که چېرې په يادو حوزو کې د توريزم امکانات په ډاگه او ډلبندي شي، نو ددې امکان به رامنځته شي چې دغه صنعت وده وکړي. د بېلگې په ډول په بلخ ولايت کې زيارتي او تاريخي توريزم

ته زياته پاملرنه په کار ده. په باميان او بدخشان ولايتونو کې سپورتي او تفريحي توريزم ته مناسب چاپېريال شته، کندهار بيا د هغو ګرځندويانو او سيلانيانو له پاره مناسب دی چې غواړي د افغانستان پر لرغوني او معاصر تاريخ پوه شي او داسې نور. په افغانستان کې د ګرځندوی صنعت بېرته را ژوندي کول او دې صنعت ته وده ورکول د مسوولينو کلکې پاملرنې ته اړتيا لري، څو له يوه لوري ددغه صنعت پرمختګ ته لاره هواره شي او له بل لوري يې ترلاسه شوي عوايد د ملي اقتصاد وده چټکه کړي. اوس به پر دې خبرې وکړو چې د ګرځندوی صنعت په اقتصاد کې څومره ارزښت لري.

## ملي اقتصاد کې د ګرځندوی صنعت ارزښت

د هر هېواد د اقتصاد پوهانو او سياست پوهانو يوازينۍ انديښنه داده چې څرنګه کولای شي د هېواد ناخالص ملي عوايد او سړي سر عوايد لوړ کړي. د دې له پاره بېلا بېلې کړنلارې او ستراتيژۍ وړاندې کوي؛ څو يې له مخې پر دې وتوانيږي چې د خپل هېواد اقتصادي وده ګړندۍ او په پای کې پر اقتصادي پراختيا بريالي شي. دغه اقتصاد پوهان او سياست پوهان د اقتصادي ودې له پاره د ګرځندويانو جلبول مهم بولي، ځکه نن ورځ توريزم په نړۍ کې يو مطرح صنعت دی او کولای شي د هېوادونو پر اقتصادي پرمختګ ژوره اغېزه وکړي.

په نړۍ کې ډېر داسې هېوادونه شته چې د خپلو ځانګړنو او طبيعي مناظر له مخې يې د ګرځندويانو پام ځان ته اړولی دی او له دې لارې زيات عوايد ترلاسه کوي. ددې هېوادونو له جملې څخه کولای شو د ځينو نومونه يې د بېلګې په ډول ياد کړو. يونان، مصر، هند، ترکيه او چين هغه هېوادونه دي چې د ګرځندوی صنعت له لارې په کلنۍ ډول په سلګونو ميليونه ډالر ترلاسه کوي. افغانستان هم له جګړو او اشغال وړاندې د زياتو لرغونو او تاريخي اثارو، سيمو او طبيعي مناظرو په درلودلو سره د ګرځندوی صنعت له لارې په مېليونونو افغانۍ عوايد ترلاسه کول، نو که چېرې اوس هم دا صنعت وده وکړي، د عوايدو ترڅنګ به نړۍوالو ته د افغانستان او افغانانو رېښتنی انځور هم وړاندې شي. د هېوادونو له لوري د ګرځندويانو جلبولو يو اهميت په دې کې نغښتی چې له دې سره په عوايدو کې زياتوالی راځي. ځکه کله چې ګرځندويان يوه هېواد ته ورځي، هغوی بايد هلته ځينې لګښتونه ولري، لکه د خوړو، استوګنځي، هوټل، ترانسپورټ او له کوربه هېواد څخه د ډاليو او نورو توکو پېرلو له امله د پيسو ورکول دي. دا ټول هغه عوايد دي چې د کوربه هېواد د اقتصادي ودې لامل ګرځي. د ګرځندوی صنعت د عوايدو په کچه کې د زياتوالي ترڅنګ د هېواد وګړو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم رغنده رول لري. داسې اټکلونه شوي دي چې کوربه هېواد ته له هرو لسو ګرځندويانو سره يو کاري فرصت رامنځته کېږي. نو له دې امله د ګرځندوی صنعت د افغانستان په څېر هېوادونو له پاره چې خوانه بشري او کاري قوه زياته لري، ډېر مهم دی. افغانستان کولای شي د خپلو طبيعي مناظرو په خاطر يو زيات شمېر تفريحي ګرځندويان راجلب کړي. افغانستان چې په غرونو پوښل شوی، ډېری طبيعي مناظر يې په همدې غرونو کې موجود دي. د پامير، هندوکش، بابا، فيروز کوه او سياه کوه او داسې نور غرونه زړه راښکونکي طبيعي منظرې لري. په ځينو ځايونو کې بيا سيندونو ددې طبيعي مناظرو ښکلا يو په دوه کړې ده. دغه ډول غرونه کولای شي غر ختونکي او تفريحي ګرځندويان هېواد ته راجلب کړي. په باميانو کې بند امير هغه طبيعي سيمه ده چې په نړۍ کې يې سارې ډېر کم ليدل کېږي. دغه راز په افغانستان کې ډېر لرغوني او تاريخي ځايونه هم شته چې د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې موقعيت او ټولې ځانګړې جذابيت لري او کولای شي په کلني ډول د کورنيو ګرځندويانو ترڅنګ د نړۍ يو زيات شمېر ګرځندويان افغانستان ته راولي. په باميانو کې د ضحاک ښار، غلغله ښار، چهل ستون او بربر کلا، د هرات جامع جومات، د هرات تاريخي کلا، په هرات کې د خواجه عبدالله انصاري مقبره او منارونه، د غزني بالاحصار، د سلطان محمود قبر او د سنايي مقبره، په کندهار کې خرقه مبارکه او بابا باغ او په مزار کې د شاديانو تنګی او د سخي زيارت هغه تاريخي ځايونه دي چې کولای شي پر مذهبي ګرځندويانو سربېره تفريحي ګرځندويان هم راجلب کړي. هر څومره چې په زيات شمېر ګرځندويان راجلب شي، په هماغه اندازه د ملي عوايد کچه لوړېږي. په اصل کې د ګرځندوی صنعت د فرهنګي ميراثونو، لرغونو او تاريخي اثارو درلودونکو هېوادونو ته په زياته اندازه عوايد ور په برخه کړي دي. نن ورځ په نړۍوال اقتصاد کې د ګرځندوی صنعت ونډه زياته ده او د نړۍ د سوداګريزو خدماتو دربيمه برخه همدې صنعت ځان ته ځانګړې شوې ده. په ۱۹۵۰ ميلادي کال کې په نړۍ کې يوازې ۲۵ مېليونه ګرځندويان موجود وو، خو په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې دا شمېر ۸۲۵ مېليونو او په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې يو ميليارد او ۳۲۳ ميليونو ته ورسېد. داسې وړاندوينې شته چې تر ۲۰۳۰ ميلادي کال پورې به نړۍ ۱.۸ ميليارد ګرځندويان ولري چې دا په نړۍواله کچه د ګرځندوی صنعت د پرمختګ انځور وړاندې کوي. د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې د بهرنيو اسعارو د جلب له پنځو سرچينو څخه يوه د ګرځندوی صنعت دی او ۸۰ هېوادونو بيا د عوايدو زياته برخه همدې صنعت ځان ته ځانګړې کړې ده. د ګرځندوی صنعت اهميت او په اقتصادي وده کې رول ته په کتو اسلامي امارت ددې صنعت د غوړېدو له پاره خپلې هلې ځلې پيل کړې دي.

## اسلامي امارت او د ګرځندوی صنعت په برخه کې پرمختګونه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د ګرځندوی صنعت له دې امله څه نا څه غوړېدلی دی چې په افغانستان کې بشپړ امنيت ټينګ شوی او دا يو مهم فکتور دی. دويمه خبره داده چې اوسمهال په افغانستان کې د ګرځندويانو له پاره ټولې اسانتياوې برابر شوې دي. د ويزې په ورکولو کې ستونزه نشته او د ګرځندويانو د تګ را تګ پرمهال په هر سيمه کې دوی ته د امارتي ادارو په تېره بيا د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی معينيت له لوري ټولې اسانتياوې برابربرې. همدا لامل دی چې دا صنعت په ټپه دربدلي حالت څخه راوتلی دی او د پرمختګ په لور ګامونه پورته کوي. په ۱۴۰۳ لمريز کال کې ۹۰۰۰ ګرځندويانو ته چې د افغانستان په بېلا بېلو سيمو کې يې له لرغونو،

تاریخي، مذهبي او تفریحي ځایونو لیدنه کړې ده، خدمات وړاندې شــوي دي. دغه راز ۳۰۰۰ سیاحتي شرکتونه ثبت شوي چې ســیلانیانو ته د ویزې د ورکړې او د سیاحت په پروسه کې یې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. سیلانیانو ته د معیــاري خدماتو وړاندې کولو په موخه د پکتیا په ځاځي اریوب، کاپیسا، نورســتان او غور ولایتونو کې د هوټلونو جوړولو چارې رواني دي، همداراز په نږدې راتلونکي کې به د ګرځندوی صنعت ته هم الکترونیکي بڼه ورکړل شي. په همدې ډول د لرغونو سیمو د پېژندنې، سروې، موزیمونو د تشــخیص په موخه د اثارو اســتول، په ملي موزیم کې د تاریخي اثارو ثبت، د تاریخي ابدو بیارغونه هغه ګامونه دي چې د اســلامي امارت له لوري پورته شــوي دي. تر دې مهاله د قوش تېپې کانال په مسیر کې د لرغون پېژندونکو له لوري ۵۷ لرغونې ساحې کشف شوې دي، له سروې نه وروســته د ۴۰۰ لرغونو منطقو (جي آی اس) نقشې ترتیب شــوې دي، مــلي موزیم تــه ۹۹۳ قلمه تاریخــي آثار د تشخیص په موخه استول شوي دي، ملي موزیم د بېلابېلو دورو ۲۴۱۰ قلمــه تاریخي آثار ثبــت کړي، هوايي ډګر او ګمرکاتــو کې د ۴۱۶ قلمه تاریخي آثارو د قاچاق مخنیوی شوی دی، د ۱۳ تاریخي آبدو د بیارغونې کارونه عملاً جریان لري، د ملي ارشــیف د ۱۹۶ ټوکه سندونه بیا ځلې رغول شــوي دي. په ۱۴ ولایتونو کې د ۴۰۰ لرغونو سیمو علمي سروې ترسره شــوې او ۳۷۱ نوې لرغونې ســیمې کشف شوې دي، چې په روان کال کې به یې علمي سروې ګانې ترسره شي، په لرغونو ســیمو کې د ۳زره ۴۸۴ اثارو ثبت ترسره شــوی، همدارنګه هغه ګنګوسې هم حقیقت نه لري، چې ګواکې د جام تاریخي منار د نړېدو له ګواښ سره مخ دی، د اطلاعاتو او کلتور وزارت هلته پلاوی استولی او دا په ډاګه شوې چې یاد منار ته د نړېدو جدي ګواښ نشته او په دې وروستیو کې د یاد منار د سنجوونې په موخه هلته د یو میلیون ډالرو په ارزښت دستګاه هم نصب شوې ده. دا هغه څه دي چې د چارو په بشپړېدو سره به یې د ګرځندوی صنعت لا وغوړېږي، یو زیات شمېر بهرني ګرځندویان به را جلب، له دې درکه به په میلیونونو افغانۍ د حکومت خزانې ته جمع او په زرګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي.

## پایله

د هرات، غزني، کندهار، بامیانو، بلخ، نورســتان، کونړ په ګډون د افغانســتان ځینې نور ولایتونه تاریخي او لرغوني آثار لري، همدارنګه ډېرې طبیعي اوښکلې منظرې شته چې د سیلانیانو لپاره په زړه پورې او د لیدنې وړ دي. نو په کار داده چې داسې فضا رامنځته شي، څو له دې لرغونو سیمو او طبیعي منظرو څخه ســیلانیان لیدنه وکړي. اســلامي امارت د ګرځندوی صنعت اقتصادي ارزښــت ته په کتو په دې برخــه کې ګامونه پورته کړي دي چې پورته یې یادونه وشــوه. خو پر دې بســنه نه ده په کار باید دې صنعت ته پراختیا ورکړل شي او پر وړاندې یې پراته خنډونه په بشــپړ ډول له منځه یوړول شي او په دې برخه کې په بشپړ ډول اســانتیاوې برابرې شي. مطلب پــه هغو ولایتونو کې چې ګرځندویــان ورځي عصري هوټلونه، خوندي فضا، عصري ترانسپورټ د ګرځندویانو مسلکي رهنما وګومارل شي، څو د افغانســتان د مېلمه پالنې اصلي او لرغونې څېره په نړیواله کچــه انځور کړي. په دې سره به له یوه لوري د ګرځندوی صنعت پرمختګ وکړي او له بل لــوري به په زیاته اندازه عواید راغونــډ او د ملي اقتصاد پــه پیاوړتیا کېدو کې به رغنده رول ولوبوي. د ګرځندوی صنعت په پرمختګ سره به په زرګونو نوي کاري فرصتونه ایجاد او هېوادولو ته به د کار ز مینه برابره شي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۹,۰۰؋ | ۶۹,۰۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳۹؋ | ۲۳۹؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۵؋ | ۱,۲۵؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۷,۱۰؋ | ۷۷,۱۶؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۵؋ | ۰,۷۵؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۲۷؋ | ۸۲۷؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۹۱,۹۳؋ | ۹۱,۹۹؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۳۹؋ | ۱۸,۴۰؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۷۹؋ | ۱۸,۸۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۷۸؋ | ۹,۷۹؋ |

